# په مراکش کې حقیقت موندنه او روغه جوړه

له څلویښتو کلونو ځپلو او له بشري حقونو څخه تر سرغړاوي وروسته ، د مراکش د مساوات او روغې جوړې کمیسیون د انتقالي عدالت د تامین او په تیرو کې بشري ضد جرمونوته د ځان رسولو لپاره رامنځ ته شو. دا کمیسیون په سیمه کې دلومړني حقیقت موندونکي کمیسیون په توګه غواړي ترڅو له بشري حقونو څخه د سرغړونو په کلونو کې حقیقت موندنه ترسره کړي او ځپلو او له بشري حقونو څخه د سرغړاوي څلویښتو کلونو په ځای پاتې میراث چې د ؛رهبرۍ د کلونو؛ په نوم پیژندل شوي دي تر غور او څېړنې لاندې ونیسي. دا کمیسیون تیروته د ځان رسولو د بهیر د برخې په توګه ورو ورو د ودې په حال کې دی او پتیلې یې ده ترڅو د تیرو په اړه کړنې وکړي. دا بهیر د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې پیل شوی و. مراکشیانو له پیل څخه بیا په ۲۰۰۵ کال کې د راپور تر بشپړیدو پورې د پخوانیو حسابونو د تصفیې په اړه ارزښتمن ګامونه پورته کړي دي.

## د رهبرۍ کلونه

په مراکش کې له بشري حقونو څخه سرغړاوی یوه ترخه او زړه بوږنوونکې کیسه ده . دې هیواد له هغه وروسته چې په ۱۹۶۵ کال کې یې له فرانسې څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه له بشري حقونو څخه له پراخو سرغړونو سره لاس ګریوان شو. له خپلواکۍ وروسته حکومتي مطلقه او ځپونکو چارواکو د دې هیواد په زرګونو وګړي بندي کړل، ویې ځورول او یا یې ترې تام کړل. همدارنګه حکومت په وحشیانه توګه د عامه خلکو ګوت نیونې او اعتصابات په ټوپک سره غلي کړل چې په پایله کې یې په لسګونو ملکي خلك ووژل شول.

کله چې وغواړو په دې هیواد کې د بشري حقونو د ترپښولاندې کولو دوسیه وڅېړو وبه وینو چې د خلکو یو پراخ شمیر له بشري حقونو څخه په سرغړاوي کې لاس درلود . د بېلګې په توګه د ناامنیو او تاوتریخوالي په پیل کې د حکومتي ځواکونو ترڅنګ مخالفې وسلې والې ډلې هم په سرغړونو کې ښکېل وې. د ریف سیمه چې د مراکش په شمال کې پرته ده او څولسیزې د ډله ایز تیري ښکار شوه چې د سرغړونو او تیریو یوه ژوندۍ بیلګه ګڼل کیږي.

حکومتي چارواکو د ۱۹۶۰ لسیزې په اوږدو کې روڼ آندي، فعال مارکسیستان ، د کارګرۍ د اتحادیې فعالان او د ملي عامه ځواك د اتحادیې کین اړخي غړي او همدارنګه هر هغه څوك چې د مطلقه شاهي نظام لپاره ګواښ ګڼل کیدو خپله موخه ګرځول. په ځانګړې توګه دوې نابریالۍ کودتاوې چې د ۱۹۷۰ کال په لومړیو کې رامنځ ته شوې ، ډېر تاوتریخوالی او ځپل یې له ځانه سره درلودل. حکومتي چارواکو خپل مخالفین و نیول او پټو بندیخانو ته یې واچول، بندیان په دې بندیخانو کې ترې تام ورك شول. هغه شمیر نظامي افسران چې په کودتا کې یې په لاس لرلو تورن و، له محاکمې وروسته یوشمیر اعدام شول او ځینې نور یې بندیخانو ته واچول شول. له هغو کسانو څخه چې وژغورل شول، داسې کسان هم شته چې اتلس کلونه په بندیخانو کې پاتې شوي دي. له بشري حقونو څخه سرغړونې و نه دربېدې بلکې د اوږدې مودې لپاره په همدې توګه راوانې وې . په ۱۹۷۵ کال کې د مراکش او ؛ صحرایي پولیساریو د جبهې؛ ترمنځ جګړه لویدیځې صحرا ته اوړد شو چې په پایله کې په ترۍ تام کېدو، خپل سري زندانونو او زرګونو ملکي کسانو په ځورول کېدو باندې واوښته.

## د ودې پرلور بهیر

دوهم شاه حسن د نړیوالو مخ پر ډېرېدونکو ګوت نیونو په پایله کې اړ شو ترڅو په ۱۹۹۰ کال کې د بشري حقونو مشورتي شورا د ؛ د بشري حقونو اړوند ټولو چارو کې سلا مشوره ورکولو؛ په موخه را منځ ته کړي. حکومتي چارواکو د څو کلونو په ترخ کې په سلګونو تنه سیاسي مخالفین له زندان څخه خوشې کړل. همدارنګه شاه اجازه ورکړه ترڅو مراکش د بشري حقونو څو نړیوالې معاهدې لاسلیك کړي او په نوموړو معاهداتو پورې وتړل شي.

مشورتي شورا وکولای شول ترڅو د انتقالي عدالت د پروګرام په پرمختګ کې اغیزمن ګامونه پورته کړي. دا شورا په ۱۹۹۸ کال کې شاه ته سپارښتنه وکړه ترڅو د قربانیانو د خسارې د جبران لپاره رسمي پلاوی وټاکي او د انتقالي عدالت پروسه رهبري کړي دا وړاندیز پلی شو او شاه حسن له مړینې دوه اوونۍ مخکې دې وړاندیز ته مثبت ځواب ورکړ. د هغه زوی شپږم شاه محمد چې د شاه ځای ناستې وریه غاړه وه په خپلو لومړنیو ګامونو کې یو خپلواك کمیسون د قربانیانو د خسارې د جبران او د اجباري ترۍ تام شویو د حالت د څرګندولو منځګړي کمیسیون په نوم رامنځ ته کړ. دې کمیسیون د خپل فعالیت د څلورو کلونو په موده کې د ۷۰۰۰ په شاوخوا کې دوسیو په اړه تصمیم ونیو او نیږدې د ۱۰۰ ملیونو ډالرو په شاوخوا کې یې خساره ورکړه. خو ځینو قربانیانو او کورنیو یې د کمیسیون د کاري بهیر په اړه شکایت وکړ او د عدالت د خوندي کولو او د دولت د نورو زیاتو تیروتنو د رابرسیره کولو غوښتونکي شول.

### د خسارې د ټولیز جبران پروګرام

د خسارې د جبران او د ډله ایز جبران د تاوان د ورکړې په اړه له ترټولو پرمختللو تجروبو څخه په مراکش کې ترسره شوې ده. دا تجربې د لاندې ځانګړتیاو درلودونکې دی:

- د ډله ایز جبران پروګرام، یوله پراخو پراختیا لرونکو اړخونو څخه دی چې غواړي د په پام کې نیول شویو ټولنو ټولنیزې او اقتصادي اړتیاوې پوره کړي.
- همدارنګه نوموړی پروګرام یو سمبولیك اړخ هم لري چې غواړی په پخوانیو کړاوونو او سرغړوونو باندې پټې ولګوي او د هغو یادونه په ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي مرکزونو باندې د پخوانیو زندانونو د تبدیلول او یادونو په واسطه وساتي.

بشري ضد جرمونو ته د ځان رسولو د پروګرام په لړ کې، حکومتي چارواکو ۱۱ ناحیې او ځایونه ټاکلي دي چې په هغو کې ترټولو ډېر له بشري حقونو څخه سرغړاوی لکه خپل سرې او نا قانونه نیونې رامنځ ته شوې دي. ترڅو دا ځایونه په تیرو کې د بشر ضد جرمونو ته د رسیدو له پروګرام څخه ډېر تر پاملرنې لاندې ونیول شي. په دې ځایونو کې الهوشیما، خنیفرا، فیګیک ، زګورا و های محمدي په کازابلانکا راځي.

پاتې د پاڼې په بل مخ کې

په پایله کې د مراکش مدني ټولنې غوښتنه وکړه ترڅو په تیرو کې دبشر په وړاندې جرمونو د پلټنې په اړه یوه هر اړخیز ه حل لاره رامنځ ته شي. د حق غوښتنې او ځواب ورکولو په بهیر کې ، یوې ډلې پخوانیو سیاسي زندانیانو د ۱۹۹۹ کال په اکتوبر کې ؛ د حقیقت موندنې او عدالت لپاره د مراکشیانو ټولنه؛ رامنځ ته کړه ترڅو له دې لارې د حقیقت موندې د یو خپلواک کمیسیون په اړه تبلیغ او ملاتړ وکړي او د خسارې د جبران په اړه یو پراېستي تعریف وړاندې کړی. د دې ټولنې په ۲۰۰۱ کال کې د غونډې په ترڅ کې د بشر د حقونو د دوه بنسټونو په همکاری ـ چې هغو د بشری حقونو لپاره د مراکشیانو ټولنه جوړوله ـ هوکړې ته ورسېدل ترڅو د حقیقت موندنې د خپلواک کمیسیون بنسټ کیښودل شي او وروسته یې خپل وړاندیزکړی پروګرام شاه ته وړاندې کړ.

## د برابرۍ او روغې جوړې کمیسیون

د بشري حقونو سلاکارې شورا په ۲۰۰۳ کال کې  په رسمي توګه شاه ته سپارښتنه وکړه ترڅو یو حقیقت موندونکی کمیسیون رامنځ ته کړي چې ترسره شویو بشري ضد جرمونو ته ځان ورسوي او دجګړې د قربانیانو او له بشري حقونو څخه د سرغړونو یادونه په هیواد کې تل پاتې وساتي او په دې توګه سوله او عدالت اعاده کړي. شاه د ۲۰۰۴ کال په جنورې کې ؛ د برابرۍ او روغې جوړې کمیسیون؛ بنسټ کېښود. د دې کمیسیون غړي د بشري حقونو د سلاکارې شورا په سپارښتنه د شاه په واسطه انتصاب شول. البته د یادونې وړ ده چې له دې کسانو څخه څو تنه د کمیسیون د رئیس او د ؛ حقیقت موندنې او عدالت لپاره د مراکشیانو ټولنې؛  یوله بنسټ ایښودونکو په شمول او د ؛ بشري حقونو د سلاکارې شورا؛ سرمنشي دریس بن زکری له پخوانیو سیاسي بندیانو څخه وو.

د برابرۍ او روغې جوړې د کمیسیون له بنسټ لیک سره سم ، نوموړی کمیسیون د لاندې دندو په ترسره کولو باندې مکلف شو:

د تیرو په اړه حقیقت موندنه

د قربانیانو او کورنیو لپاره د خسارې د جبران د پروګرام برابرول

د داسې مقرراتو او ګامونو سپارښتنه کول چې کولای شي په راتلونکې کې د تاوتریخوالي له را ولاړېدو څخه مخنیوی وکړي.

په ۱۹۶۵ کال کې د مراکش له خپلواکۍ څخه بیا په ۱۹۹۹ کال کې د خپلواک منځګړي کمیسیون تر تاسیس پورې ، له بشري حقونو څخه پراخې سرغړونې رامنځ ته شوې . او د برابرۍ او روغې جوړې کمیسیون ته واک ورکړ شو ترڅو له بشري حقونو څخه هغه سرغړونې چې په دې ۴۳ کلنه دوره کې ترسره شوې دي تر څېړنې لاندې ونیسي. د دې کمیسون د د دندو او واکونو په دایره کې د اجباري ترې تام شویو په اړه څېړنه، مستبد زندانونه او د بشر له حقونو څخه د سرغړونو نور ډولونه لکه ځوروني، له محکمې پرته اعدامونه، د اعتراض کوونکو په وړاندې له نظامي ځواک څخه ناوړه ګټه اخیستنه، جنسي تاوتریخوالي او په زور شړنې راځي.

سره له دې چې د برابرۍ او مصالحې کمیسیون د احضار او محکمې ته را کښلو او د انتقالي عدالت په اړه د ترسره شویو تحقیقاتو د سرته رسولو په اړه واک نه درلود، خو دولتي چاواکي په قانوني توګه په همکارۍ باندې مکلف و.  له دې ټولو سره سره کمیسیون په خپل وروستي رپوټ کې د ځینو پخوانیو امنیتي ارګانونو او دولتي چارواکو له نه مرستې څخه سر وټکاوه.

نوموړي کمیسیون په پراخه کچه حقیقت موندنه پیل کړه او آن تردې چې ویلی شو دا ډول یو کار په سیمه کې سابقه نه درلوده. د تاوان د غوښتنې د څېړنو ، د پلټنو د ترسره کولو او د قربانیانو د شواهدو د رابرسیره کولو لپاره د عمومي غونډو د جوړولو له لارې له ۲۲۰۰۰ څخه د زیاتو وګړو په اړه څېړنې ترسره شوې.

نوموړي کمیسیون خپل وروستی راپور په ۲۰۰۵ کال کې شاه محمد ته وسپاره. وروسته له لنډې مودې شاه د دې راپور د خپرولو پخلی وکړ او د بشر د حقونو له سلاکارې شورا یې وغوښتل ترڅو د دې کمیسیون سپارښتنې پلې کړي.

د برابرۍ او روغې جوړې کمیسیون د مستند او رسمي روایت له لارې په خپل راپور کې دا ټکی په ګوته کړ چې واکمنانو او ځینې نورو ګوندونو په تیرو کې له بشري حقونو څخه سرغړونه کړې ده.  همدارنګه یې د زیان د جبران لپاره یو ټولیز چارچوکا ټ جوړ کړ. وړاندیز یې وکړ ترڅو د خسارې تاوان ورکول پلی کړل شي. همدارنګه یې سپارښتنه وکړه ترڅو لومړی وزیر د یوې رسمي او ټولیزې بښنې غوښتلو د ترسره کیدو حکم صادر کړي. سربېره پردې نویو حکومتي چارواکو ته توصیه وکړه چې د قانونمند حکومت پیاوړتیا او بشري حقونو د سرغړاوي د تکرار د مخنیوي لپاره اړینه ده ترڅو په اساسي قانون کې سمونونه راشي. همدارنګه دې کمیسیون د مراکش حکومت ته توصیه وکړه ترڅو د بشر د حقونو لپاره اجرایي ضمانت  په اساسي قانون کې وضع کړي، ترڅو د بشري حقونو ارزښت قانونمند او بنسټیزه شي. بله سپارښتنه حکومت ته داده ترڅو د ملي ستراتیژۍ په رامنځ ته کولو سره د معافیت د فرهنګ د له منځه وړلو په اړه ګام پورته کړي.  د مرګ سزا له منځه یوړل شي . حکومت باید د لاحه د نړیوالې جزایي محکمې لپاره د روم بنسټ لیک لاسلیک کړي او د هیواد امنیتي او قضایي سیستمونه اصلاح کړي.

سره له دې چې دې کمیسیون ډېرې لاسته راوړنې درلودې، خو بیاهم له نیوکو سره مخامخ دی. منتقدین په دې آند دي چې کمیسیون د پلټنو لپاره کافي واک نه درلود ترڅو د بشري حقونو له سرغړوونکو سره په سمه توګه حساب وکړي.  د عمومي شکایتونو د اوریدلو د بهیر نوبت ځینو ډلو لکه د بشري حقونو لپاره د مراکشیانوټولنې د ملي تلویزیون له لارې په لاس کې واخیست چې په هغو کې قربانیانو په څرګنده توګه د بشري حقونو د ترپښولاندې کوونکو نومونه واخیستل. کیدای شي ترټولو مهم شکایت د ډله ایزو قبرونو او خاورته سپارلو دځای  اړوند شکایت وي دا هغه څه دي چې په خواشیني سره ډېر لږ معلومات یې په اړه شتون لري.

## په ژمنو باندې دریدل

د بشري حقونو سلاکارې شورا له ۲۰۰۶ کال څخه را په دې خوا د برابرۍ او روغې جوړې د کمیسیون له تشکیل وروسته د خسارې د جبران د پلې کولو د پروګرامونو په اجرا کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. د ۹۰۰۰ کسانو په شاوخوا قربانیانو ته نیږدې ۸۵ ملیونه ډالره شخصي تاوان ورکول بشپړ شوی دی. د بشري حقونو مشورتي شورا له وزارتونو او نورو رسمي سازمانونو سره هوکړه کړې ده  ترڅو د دولت له بودیجې څخه قربانیانو او کورنیو ته یې تاوان ، د روغتیایي څارنې او حرفوي زده کړو لګښتونه تهیه کړي.

همدارنګه دې کمیسیون ۱۱ ناحیې کومې چې د ډله ایزې خسارې جبران ته یې اړتیا درلوده په ګوته کړې دي. داسې پروګرامونه پیل شوي دي ترڅو دا هڅې اداره کړي او ډاډ ترلاسه کړي ترڅو ملي او سیمه ایز چارواکي په دې بهیر کې ګډون وکړي.

اوس هم مهم کارونه لا اجرا پاتې دي ، د خسارې د جبران پروګرامونه او د ډله ایزې خسارې د ورکړې کار اوس هم په لومړنیو پړاوونو کې قرار لري. د ترې تام شویو یو شمېر دوسیې له حل پرته پاتې دي. د قوانینو او قضایي سیستم د اصلاح لپاره سپارښتنې  چې د برابرۍ او روغې جوړې د کمیسیون لخوا وړاندې شوې دي ، پلې شوي نه دي او په یوه خیالي حالت کې پاتې دي.



**د انتقالي عدالت نړیوال مرکز (ICTJ):** د انتقالي عدالت نړیوال مرکز داسې یو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خوندیتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هیوادونو سره  چې غواړي د تل پاتې سولې او په تیرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعالیت وکړي، مرسته کوي.  د دې مرکز د فعالیت سیمه هغه ټولنې دي چې له ځینونکو حکومتونو او یا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او یا په هغو هیوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا  له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سیستماتیک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګریوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په  www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

---

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه یو افغاني مدني  بنسټ دی چې لرلید یې یوې ولسواکې، سوله ایزې، متواضع  او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي یې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ  ماموریت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پایله یې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او یو د بل د منلو د فرهنګ پیاوړتیا او  بشري حقونو ته درناوی  وي.  ولسواکی، عدالت، بشري حقونو، په هیواد کې انډولیزې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا ، بې پربوالي، خپلواکی او تخصص ته ټینګه ژمنتیا د دې سازمان د کړو وړو  د لارښود په توګه له چورلیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org